د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده‌کړو وزارت


شيخ زايد پوهنتون

علمي څېړنو معاونيت

علمي مجلې آمريت

د انجنيري او تکنالوژي نوښتونو ژورنال

# د ساحوي او کتابتوني علمي مقالو د ليکنې لارښود




کال.................................................................................... ۱۴۰۴ هـ

**شيخ زايد پوهنتون**

**علمي څېړنو معاونيت**

**علمي مجلې آمريت**

**د انجنيري او تکنالوژي نوښتونو ژورنال**

# د ساحوي او کتابتوني علمي مقالو د ليکنې لارښود

ترتيبوونکي: پوهندوی دوکتور احمدشاه ابراهيمي ، پوهندوی نقيب احمد نعيمي، پوهنمل محمد شريف حيدر

څرنګه، چې پوهيږو څېړنيزې مقالې په عامه توګه په تجربوي/ عملي يا ساحوي (Empirical) او نظري يا کتابتوني (Theoretical) ډولونو باندې ويشل شويدي، چې دلته د دواړو ډولونو د ليکنې په موخه لارښود وړاندې کيږي.

**1- د تجربوي /عملي يا ساحوي مقالې ليکنې لارښود** (Guideline for Empirical Article)

په دغه څېړنيزه مقاله کې ليکوال د خپلې څېړنې په اړه راپور په داسې شکل وړاندې کوي، چې د ترلاسه شويو معلوماتو، مشاهداتو او اندازه ګيريو له مخې د څېړنې پوښتنې ته ځواب ويوونکی وي. په دغه مقاله کې د مصاحبو (Interviews)، سروې ګانو (Surveys)، پوښتنپاڼو (Questionnaires)، مشاهداتو (Observations)، تجربو (Experiments ) او په نورو بېلا بېلو لارو په کمي او کيفي توګه معلومات (Data) راټوليږي او بيا د تحليل وروسته يې نتايج او د څېړنې پايله ليکل کيږي .

د تجربوي / ساحوي مقالې جوړښت په لاندې ډول دی.

- ✓ د مقالې عنوان (Title)
- ✓ د ليکوال نوم (Author Name)
- ✓ د ليکوال ادرس (Author' Address)
- ✓ لنډيز (Abstract)
- ✓ کليدي کليمې (Keywords)
- ✓ سريزه/ پېژندنه (Introduction)
- ✓ کړنلاره او د کار توکي ( Methods/ Methodology )
- ✓ نتايج او مناقشې (Results and Discussion )
- ✓ پايله (Conclusion)

✓ وړانديزونه (Recommendations)

✓ مننليک (Acknowledgment) د موجوديت په صورت کې

✓ ماخذونه (References)

۱. **د مقالې عنوان** (Title) : د يوې څېړنيزې مقالې عنوان بايد د لاندې ځانګړتياوو درلودونکی وي.

- په اصلي موضوعاتو / متغيرونو باندې مشتمل وي.
- د څېړنې ډيټا مقدار ته بايد انتحاب شي.
- جامع او جذاب وي.
- واضح او قابل فهم وي.
- مشخص او مختصر وي ( د کليماتو شمير به يې د ۱۵ څخه زيات نه وي).
- ګونګ، فورمولي ، مخفف او د تجارتي کليماتو څخه بايد پاک وي.
- عمومي د مقالې عنوان بايد ۱۴ بولډ وي او نور ټول فرعي عنوانونه په مقاله کې ۱۲ بولډ ليکل کيږي. د کرښو ترمنځ فاصله بايد ۱.۱۵ انچ وي.

۲. **لنډيز** (Abstract)**:** د مقالې لنډيز د عنوان او د ليکوال (ليکوالانو) د پيژندګلوی څخه وروسته ليکل کيږي، د صفحې په منځنۍ برخه کې د شمارې څخه پرته د ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ کليمو په اندازه ترتيب کيږي .د مقالې لنډيز بايد په ترتيب سره لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي :

۱. دا مقاله څه څيړي ؟ ( دعنوان ډيره لنډه شرحه، يو يا دوه جملې)

۲. ولې دې دا څيړنه کړي ده ؟ ( پّه لنډو جملو کې موخه او اهميت )

۳. څنګه دې سرته رسولي ده ؟ ( د ميتود ډيره لنده شرحه، مواد ، ازموينې او وسايل)

۴. د څيړنې نتيجې دې کومې دي (معمولا ارقام او يا د ارقامو فيصدی ډيرموثر دي)

۵. د څيړنې د پايلو نهايي نتيجه ګيري څه ده (په څو جملو کې له نتايجو عمومي برداشت وليکئ)

**بيلګه :**

**لنډيز**(Abstract)

[ دا مقاله څه څيري ؟ ] دا څيړنه د سپکو فعالو پوډري کانکريټو په پراختيا باندې تمرکز کوي ترڅو ميخانيکي او د مداومت خواص يې لوړ کړي.[ ولې دې دا څيړنه کړيده ؟] ددې څيړنې عمده موخه د لوړفعاليت لرونکو سپکو کانکريټو توليد دی کوم چې د محلی موادو لکه د پرسيدلي خاورې جغل، اودوهمه درجه نښلوونکي موادو ( سليکافيوم او الکوفاين) څخه په اسفتادې سره توليديږي.[ څنګه دې سرته رسولي ده ؟] په دې څيړنه کې درې مارکه ( ۷۰، ۸۰او ۹۰ کانکريټ هدف ګرځول شوي اود ۷ او ۲۸ ورځو ميخانيکي خواص لکه فشاري ، کششي او انحنايي مقاومتونه يې ارزول شوي دي. د مداومت خواص يې د اوبو جذبونې، د کلورين ايون د تداحل او مايکرو ساختماني تحليل ازموينو پّه واسطه څيړل شوي دي. [د څيړنې نتيجې دې کومې

دي ؟] دې څېړنې د ۱۰۰ مارک کانکريټ لاسته راوړي کوم چې د لږ وزن (۱۹۰۰ کيلو پر متر مکعب ) په درلودلو سره په ساختماني عناصروکې موثر واقع کيداى شي. [د څېړنې له نتايجو وروستى پايله څه ده ؟] په نتيجه کې دا څېړنه دا په ګوته کوي چې د محلی موادو څخه په اسفادې سره په نورمالو شرايطو کې د دوهمه درجه نبلوونکوموادو په استعمال سره د لوړ مقاومت او مداومت لرونکو سپکو کانکريټو توليد ممکن دی.

برسيره په پورته ياد شويو موارو، په لنډيز کې بايد لاندې موارد هم په پام کې ونيول شي

- ✓ د څېړنې د طرحې، اهميت او هدف معرفي کوونکی وي.
- ✓ داستعمال شوي کړنلارې ، اصل پايلې او اصل نتيجه ګيرۍ مختصر ذکر ولري.
- ✓ د يادونې وړ ده، چې د لنډيز متن بايد د ټولې مقالې د بشپړ کېدو څخه وروسته چمتو شي.
- ✓ په لنډيز کې بايد تېره زمانه وکارول شي.

۳. **کليدي کليمې** (Keywords)**:** د مقالې کليدي کليمې بايد لاندې ځانګړنې ولري:

- د کليدي کليمو ترتيب بايد د الفباء تورو په اساس وي.
- غوره به وي که د ۵ څخه تر ۷ پورې کليدي کليمې شتون ولري.
- بايد کليمې (Words) يا اصطلاحګانې (Phrases) وي ؛ ترڅو لوستونکي يې د مقالې د لټون لپاره وکاروي.
- دغه کليمې به د کليدي مفهوم څخه ښودنه کوي.
- دغه کليمې به د موضوع د راجمع کړل شويو مفاهمو څخه انعکاس کوي.
- دغه کليمې به تشريحي ( Descriptive ) مفهوم لري.
- کليدي کليمې بايد په عنوان کې نه وي.

۴. **سريزه / پيژندګلوي** (Introduction)**:** سريزه بايد په خطبه پيل شي. د مقالې د پيژندګلوي په برخه کې پرابلم/ پوښتنې / مسئلې ته د رسيدنې په اړه د مخکينې معلومات ځای په ځای کيږي. ددې نه علاوه په دغه برخه کې ليکوال داسې يوه سناريو/ کيسه وړاندې کوي په کومه کې چې نوموړی څه شی د پرابلم / پوښتنې / مسئلې په ډول پېژني او د هغې د حل لپاره د کړنې څه اراده لري. همدارنګه په دغه برخه کې مولف / څېړونکی د څېړنې د موخو ترڅنګ د څېړنې اهميت او ضرورت بيانوي. د څېړنې پيژندنې برخه بايد لاندې مفاهيم افاده کړي.

۱. **شاليد** (Background / Context)

- د موضوع عمومي پېژندنه او وضاحت.
- ولې دا موضوع مهمه ده؟

- د علمي يا عملي ستونزې لنډه بيانول.

**۲ .ستونزه** (Problem Statement)

هغه مشخصه ستونزه يا خلا (gap) چې څېړنه پرې تمرکز کوي (دا خلا بايد د شويو څېړنو په مرور سره واضحه شي).

- ولې دې ستونزې ته د حل اړتيا شته؟

**۳ . په دې برخه کې ترسره شويو څېړنو ته لنډه کتنه** (Brief Literature Review)

- مخکېني مهمې څېړنې چې په دې برخه کې شوي.
- د هغوی پايلې او نيمګړتياوې.
- هغه ځای چې ستا څېړنه به يې ډکه کړي.

**۴ .د څېړنې اړتيا** (Rationale / Significance)

- څېړنه دې د چا لپاره ګټوره ده؟ (اکادميک خلک، صنعت، ټولنه...)
- نوې څه ورزياتېږي.(Novelty or Contribution)

**۵ .موخې**(Objectives)

- د څېړنې اصلي موخو واضح کول کوم چې ددې څېړنې په پای کې به لاسته راشي.

د څېړنی موخې بايد داسې وي چې په لاس راوړل شي. د موخو په متن کې د لاندې ځينو کليمو څخه استفاده موثره ده.

استعمالیدونکي کلیمې:

| شمېره | پښتو مانا | English Action Verb |
|---|---|---|
| 1 | ارزول | Evaluate |
| 2 | ارزونه کول | Assess |
| 3 | تحلیل کول | Analyze |
| 4 | څېړل | Examine |
| 5 | پلټنه کول | Investigate |
| 6 | مطالعه کول | Study |
| 7 | مقايسه کول | Compare |
| 9 | توپیر څرګندول | Differentiate |
| 10 | اړیکه معلومول | Correlate |
| 11 | اندازه کول | Measure |
| 12 | معلومول | Determine |
| 14 | تصدیق کول | Verify |
| 15 | پراختیا ورکول | Develop |
| 16 | طرحه کول | Design |
| 17 | وړاندیز کول | Propose |
| 18 | اصلاح کول | Optimize |
| 19 | ښه کول | Improve |
| 20 | مشخص کول | Identify |
| 21 | تشریح کول | Describe |
| 23 | وړاندې کول | Present |
| 24 | څرګندول | Demonstrate |
| 25 | تطبيقول | Apply |
| 26 | اعتبار تثبیتول | Validate |

مثالونه :

- ❖ دا څېړنه د بانکي سیسمونو ترمنځ روابط ارزوي.
- ❖ دا څېړنه پرمختللي ساختماني سیستمونه تحلیلوي ترڅو د زلزلې په مقابل کې د مقاومو ودانیو طرحه کې ترې استفاده وشي.
- ❖ دا څېړنه په خوست کې د ترافيکي ګڼې ګوڼې د کمښت عوامل پلټي.

**یادونه** : که اړین وي، د څېړنې پوښتنې (Research Questions) یا فرضیې.(Hypotheses) هم ولیکئ.

۵. **کړنلاره او کارتوکي** ( Methods & Materials ) : د مقالې د کړنلارې په دغه برخه کې مولف په واضح ډول د هغو میتودونو یا روشونو ذکرکوي د کومو له لارې، چې شته پرابلم/ پوښتنې / مسئلې ته رسیدګي ترسره کیږي. په دې برخه کې مولف/ څېړونکی د دې ذکر هم کوي، چې نوموړې په کوم ډول مقاله تنظیم یا جوړوي. د کړنلارې نور موارد په لاندې ډول دي.

- د څېړنې نوعیت او ډیزاین.
- د څېړنې ځای
- احصایوي ټولنه ، د نمونو شمېر او د نمونه اخیستنې کړنلاره
- د معلوماتو د راټولولو ابزار او وسایل
- د معلوماتو د تحلیل او تجزیې کړنلاره

- د څېړنې د قيمت او مالي منابعو په اړه يادونه کوي
- د امکاناتو، محدوديتونو او اخلاقي مسايلو تذکر تر سره کيږي

٦. **نتايج** ( Results ) : د مقالې په دغه برخه کې لاندې موارد ذکر کيږي.

- د څېړنې لاس ته راوړنې يا پايلې راپورکيږي
- د څېړنې د موندنو تر ټولو غوره مېتود هغه دی چې د شکل ، گراف او جدول له لارې معلومات وړاندې شي.
- د څېړنې موندنې بايد د څېړنې د فرضيو او پوښتنو په پام کې نيولو سره په ترتيب وړاندې شي.
- په دغه برخه کې د داسې احصايوې اسنادو ښودنه ترسره کيږي، چې وښايي د څېړنې پايلې اعتباري او د اعتماد وړ دي.

٧. **مناقشې** (Discussions): د مقالې په دغه برخه کې بايد لاندې اقدامات ترسره شي.

- خپلو موندنو يا پايلو ته د سريزې / پيژندگلوي په برخه کې ذکر شوي پرابلم يا پوښتنې، تېرو علمي څېړنو او يا د نورو څېړونکو موندنو ته سره اړيکه ورکوي او مقايسه يې ترسره کوي. د دې وضاحت کوي، چې څرنگه د نوموړې موندنې يا پايلې په موجوده علم کې د زياتوالي باعث کېدلای شي.
- په دې برخه کې د تحقيق د راپور د ټولو برخو ترمنځ ربط ورکول کيږي، له همدې امله لازمه ده، چې د دې څېړنې او پخوانيو څېړنو د موندنو ورته والی او تفاوت روښانه شي او دا معلومه شي، چې د څېړنې موندنې د مطالعه کېدونکي مسلې د روښانه کولو او همدارنگه په همدې رشته کې د شته علم له اضافه والي سره څه ډول مرسته کولای شي.

٨. **پايله** (Conclusion): د مقالې په دغه برخه کې د پايلې او مناقشې خلاصه وړاندې کيږي. د دې څخه علاوه د څېړنې محدوديتونه ذکر کيږي.

٩. **وړانديزونه** (Recommendations): په دغه برخه کې د ورته نورو څېړنو لپاره اړونده ادارو ته مشخص وړانديزونه ترسره کيږي.

١٠. **مننليک** (Acknowledgment): په دغه برخه کې د هغو ادارو يا اشخاصو څخه منته او احترام ترسره کيږي، چې د څېړونکي سره يې د دغې څېړنې او مقالې په ترڅ کې مرستې يا همکارۍ ترسره کړيدي. که چا درسره همکاري نه وي کړې نو ضرور نه ده چې دا برخه دې خامخا موجوده وي.

١١. **ماخذونه** (References): د مقالې په وروستۍ برخه کې د هغو منابعو څخه، چې مولف د مقالې په ليکنه کې ترې استفاده کړې وي. ماخذونه د مجلې د غوښتنو مطابق تنظيم کيږي. د يادونې وړ ده، چې د شيخ زايد پوهنتون د علمي – څېړنيز ژورنال په دې برخه کې د Vancouver له منل شوي سټايل څخه استفاده کوي. همدا ډول داخل د متن کې هم اخځليکونه ليکل کيږي.

**2- د نظري / کتابتوني مقالې ليکنې لارښود** (Guideline for Theoretical Article)

نظري/ کتابتوني مقالې داسې څېړنيزې مقالې دي په کومو کې، چې مولف خپله ادعا ( claim ) د مصاحبو، سروې گانو، پوښتنپاڼو، مشاهداتو، تجربو يا د نور قسمه نويو ډاټاگانو پرته حمايه کوي. د مولف ټول دلايل په نظري تحقيق باندې مبنا وي کوم چې د نورو څېړونکو د لټريچر څخه د مقالو ، رسمي سندونو، کتابونو، اخبارونو په شکل کې لا پخوا چاپ ته سپارل شوي وي. ددغې مقالې جوړښت په لاندې ډول دی.

- ✓ د مقالې عنوان ( Title)
- ✓ د ليکوال نوم (Author Name)
- ✓ د ليکوال ادرس (Author Address)

- ✓ لنډيز ( Abstract)
- ✓ کليدي کليمې (Keywords)
- ✓ سريزه / پېژندګلوي (Introduction)
- ✓ بدنه (Body)
- ✓ نتيجه ګيري (Conclusion)
- ✓ وړانديزونه (Recommendations)
- ✓ اخځليکونه (References)

I. د مقالې عنوان ( Title) : د دې مقالې عنوان هم بايد د ساحوي مقالې په څير وي.

II. لنډيز (Abstract): د دې مقالې لنډيز هم بايد د ساحوي مقالې په څير وي.

III. کليدي کليمې (Keywords): ددې مقالې کليدي کليمې هم بايد د ساحوي مقالې په شان وي.

IV. سريزه / پيژندنګلوي (Introduction): ددغې مقالې د سريزې/ پيژندنې برخه د لاندې ځانګړتياوو درلودونکې ده.

- ▪ د مقالې عمومي اهداف بيانوي
- ▪ د څېړنې د پرابلم يا پوښتنې لپاره ضروري مخينه مهيا کوي
- ▪ دا روښانه کوي چې د عينې څېړنې په مورد څه شی له پخوا څخه معلوم دي او په دغه څېړنه کې د کومې خلا (gap) د معلومولو هڅه ترسره کيږي.
- ▪ د پېژندل شوې خلا د ډکون په موخه له کومو لارو چارو څخه کار اخيستل کيږي.
- ▪ د هغو مېتودونو ذکر ترسره کيږي د کومو له لارې چې دغه څېړنيزه مقاله چمتوکيږي.

V. بدنه (Body): د کتابتوني مقالې په دغه برخه کې لاندې موارد شتون لري.

- ▪ په دغه برخه کې د سريزې/ پېژندنې سمدستي وروسته د فرعي عنوانونو په شکل کې جمع شوي معلومات ځای په ځای کيږي.
- ▪ دغه معلومات د مقالې د عمده مطالبو مطابق وړاندې کيږي، څرنګه چې د مقالې د پېژندګلوي په برخه کې ذکر شويدي.

VI. پايله (Conclusion): ددې مقالې نتيجه ګيري هم بايد د ساحوي مقالې په څير وي.

VII. وړانديزونه (Recommendations): په دغه برخه کې د ورته نورو څېړنو لپاره اړونده ادارو ته مشخص وړانديزونه ترسره کيږي.

VIII. اخځليکونه (References) : د دې مقالې اخځليکونه هم بايد د ساحوي مقالې په څير وي.

**نور اړين وضاحتونه**

| د علمي مقالو موارد | د مواردو توضيح |
|---|---|
| د مقالې اندازه | په څېړنيزو علمي مقالوکې د کليمو شمير تقريباً د ۴۰۰۰ څخه تر ۶۰۰۰ پورې ټاکل شوی. |
| د ليکوال يا ليکوالانو په اړه معلومات | په څېړنيزوعلمي مقالوکې د څېړنې له عنوان څخه وروسته کرښه کې د ليکونکي يا ليکونکو نوم ليکل کيږي او په دوهمه کرښه کې د هغې علمي مؤسسې نوم راځي، چې ليکوال يا ليکوالان يې د علمي کادر غړي وي. که چيرې يوه څېړنه د دوو يا څو تنو په واسطه ترسره شوې وي او هغوی ټول په يوه پوهنتون يا مؤسسه پورې تړاو ولري، د مؤسسې نوم يو ځل او بيا وروسته د ليکونکي/ ليکونکو نوم ذکر کيږي، خو که ليکونکي په بېلابېلو سازمانو يا مؤسسو پورې تړاو ولري بايد د هريوه د نوم په ليکلو پسې د مربوطه سازمان نوم وليکل شي. د ليکوالانو د نومونو د ليکلو ترتيب داسې دی، چې په څېړنيز کار کې د ګډون کولو په تناسب يو په بل پسې بايد وليکل شي. که د ليکوالانو شمېر زيات وو له فوټنوټ څخه د کار واخيستل شي. يادونه کيږي چې په څېړنيزه مقاله کې د هر ليکوال ونډه بايد واضحه او مشخصه وي. |

| | |
|---|---|
| | د یوه یا دوو لیکوالانو په شتون کې به غوره وي چې د لیکوال/ لیکوالانو د تلیفون شمیرې او ایمیل ادرسونه هم ولیکل شي.<br>په ساحوي مقالو کې د لیکوالانو علمي رتبې لیکل کیږي او د تحصیل درجې یې نه لیکل کیږي. پداسې مقالو کې مسؤل لیکوال یا ارتباطي شخص د نوم څخه د مخه د ستوري (✶ ) علامه کارول کیږي. نوم په ۱۱ اندازه یا سایز کې لیکل کیږي. |
| د مقالو ژباړه | یوه داسې علمي مقاله، چې په بهرني معتبر ژورنال کې چاپ شوې وي اړونده څانګه ورته اړتیا ولري، او د مجلې د تحریر هیئت څخه ورته د مقالې د ژباړل کیدلو اجازه ورکړل شوې وي د منلو وړ ده. خو د یادونې وړ ده، چې دغه مقاله به د فرعي اثارو په ډول په ترفیع کې نه محاسبه کیږي. |
| د جدولونو او شکلونو جوړښت | د جدولونو شمېرې د جدول په سر او د شکلونو او ګرافونو شمېرې د هغوی په لاندې برخه کې لیکل کیږي. |
| فونټ ، فونټ سایز | د پښتو لیکنې په صورت کې د Bahij Zar او د دری لیکنې په صورت کې د B Zar څخه استفاده کیږي. چې د متن سایز به ۱۲ ، د ګرافونو، جدولونو د داخلي لیکنې سایز دوه فونټه کم او د عنوانونو دوه فونټه سایز زیات استعمالیدلای شي. د انګلیسي لیکلو لپاره د Times New Roman له فونټ څخه استفاده کیږي. چې اندازه یې باید د دوو په اندازه کمه وي. همدا ډول د عربي ژبې لپاره له Arabic Tradational سایز ۱۳ بولډ څخه ګټه واخیستل شي. |
| د منابعو/ سرچینو استعمال | د څېړنیزو علمي کتابتوني مقالو لپاره باید مواد د لاندې ذکرشویو سرچینو څخه ترلاسه کړل شي<br>▪ د معیاري مقالوڅخه چې په معیاري مجلو کې چاپ شوې وي.<br>▪ د اړونده کتابونو څخه ، د ماسترۍ او دوکتورا له تیزس څخه<br>▪ له نورو معتبرو علمي آثارو څخه<br>په کتابخانه ای مقاله کې د درسي لیکچرنوټونو څخه استفاده نه کیږي. |
| د منابعو شمیر | د څېړنیزو علمي مقالو لپاره باید کم ترکمه له ۸ معتبرو منابعو چې د موضوع سره تړاو ولري، څخه استفاده وشي. |
| د اخځلیکونو د کارونې لارې چارې | Vancouver<br>۱- کتاب<br>د لیکوال تخلص نوم. د کتاب نوم. ځای: مطبعه؛ (کال).<br>۲- مقاله<br>د لیکوال تخلص نوم. د مقالې عنوان. ژورنال. (کال)؛ ګڼه. د مجلې نمبر: د صفحو تعداد (۲ - ۱۲ ). |
| Abstract | مقالې چې په رسمو ژبو ترتیب او په علمي مجلوکې چاپ ته سپارل کیږي باید لنډیز یې د Abstract ترعنوان لاندې په انګلیسي هم ترتیب او د مجلې په وروستی برخه کې ځای په ځای شي. ټول کلمات یې باید له ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ پوري وي. |

**يادونه : د ساحوي اوکتابتوني مقالو د لارښودونو په ترتيب او جوړونه کې د لاندې منابعو څخه استفاده شويده:**


I. تحصيلات عالي ( ) رهنمود تاليف و ترجمه کتاب های درسي و ممد درسي و نگارش رساله علمي- تحقيقي اعضای کادرعلمي موسسات تحصيلات عالي ملکي.

II. تحصيلات عالي (۱۳۹۸). رهنمود نگارش منابع درسي و رساله علمي تحقيقي اعضای کادر علمي موسسات تحصيلات عالي ملکي.

III. تحصيلات عالي (۱۳۹۸). لايحه تنظيم امور نشريه های علمي- تحقيقي موسسات تحصيلات عالي و ارگانهای نشراتي افغانستان.

IV. تحصيلات عالي ( ۱۳۹۸ ). طرزالعمل تنظيم امور نشريه های علمي- تحقيقي موسسات تحصيلات عالي و ارگانهای نشراتي افغانستان.

V. تحصيلات عالي (۱۳۹۰). مقرره ها، لوايح و طرزالعمل های تحصيلات عالي. (چاپ دوم).

VI. وياړ سيدشاه گل (۱۴۰۲). لخوا د ترتيب شوي لارښود

VII. Siva Prathap, Mohd Akhter Ali, & M. Kamraju. (2019, April). HOW TO WRITE AN ACADEMIC RESEARCH PAPER. ResearchGate; unknown. https://www.researchgate.net/publication/342916764_HOW_TO_WRITE_AN_ACADEMIC_RESEARCH_PAPER

VIII. Rakotsoane, F. (2019, August 4). Structure and Parts of an Article. ResearchGate; unknown. https://www.researchgate.net/publication/334959618_Structure_and_Parts_of_an_Article

IX. Younas, W. (2020). Guidelines for writing an article. ResearchGate; Buzdar Insights. https://www.researchgate.net/publication/338375271_Guidelines_for_writing_an_article


---

په پورته ډول د شيخ زايد پوهنتون د د انجنيري او تکنالوژي نوښتونو ژورنال لپاره د اړوند د ساحوي او کتابتوني مقالو د ليکنې لارښودونه د ټاکل شوي پلاوي له لوري چمتو او صحت لري. والسلام

---

**پوهندوی دوکتور احمدشاه ابرهيمي** **پوهندوي نقيب احمد نعيمي** **پوهنمل محمد شريف حيدر**